مرکز مطالعات استراتژیک و منطقوی
د ستراتېژيکو او سیمه‌ییزو څېړنو مرکز

# تحلیل هفته

**شماره: ۱۳۳** (از ۱۴ الی ۲۱ سنبله ۱۳۹۴ هـ ش)

**این نشریه مجموعهٔ تحلیل رویدادهای مهم سیاسی و اقتصادی هفته‌وار است که به زبان‌های پشتو، دری، انگلیسی و عربی، توسط مرکز مطالعات استراتژیک و منطقوی تهیه و نشر می‌گردد، تا نهادهای سیاست‌گذار از آن استفاده نمایند.**

---

## آنچه در این شماره می‌خوانید:


- مقدمه ........ ۲

### ریکا او سام کنفرانسونه؛ پر افغانستان او سیمه يې اغېزې

- د سیمې د اقتصادي الحاق هڅې........ ۴
- د افغانستان لپاره د سیمه‌ییزې اقتصادي همکارۍ کنفرانسونه (ریکا)........ ۵
- ریکا کنفرانسونه او د افغانستان پر اقتصاد يې اغېزې........ ٦
- سیمه ولې د اقتصادي پیوستون په لور نه ځي؟........ ٦
- سام کنفرانس او د مرستو راتلونکی........ ۷
- سپارښتنې........ ۸

### اختلافات درونی طالبان؛ وضعیت کنونی و آینده

- مخالفت‌ها در صفوف جنگ........ ۱۰
- تاثیر مخالفت منصور دادالله........ ۱۰
- آیندهٔ اختلافات درونی طالبان........ ۱۲

## مقدمه

تېره اوونۍ د افغانستان او سیمې د اقتصادي همکاریو دوه مهم کنفرانسونه "ریکا" او "سام" په کابل کې جوړ شول، چې د سیمې او نړۍ د یو شمېر هېوادونو جګپوړو چارواکو پکې ګډون کړی و. د ریکا کنفرانسونو لړۍ له ۲۰۰۵ کال راهیسې دوام لري چې تراوسه یې لاسته راوړنې تر ډېره د کاغذ پر مخ پاتې دي؛ خو له وروستي کنفرانس وروسته یو ځل بیا د افغانستان او سیمې د اقتصادي الحاق په اړه هیلې راټوکېدلې.

په سام کنفرانس کې هم، چې د راتلونکي کال د بروکسل کنفرانس لپاره د چمتووالي او د نړیوالې ټولنې د مرستو راجلبولو هڅه بلل کېدای شي، له افغانستان سره د نړیوالو پر مرستو او د افغانستان له خوا ورکړل شویو ژمنو په اړه بحث وشو؛ خو دا چې ریکا شپږم او سام کنفرانسونه به د افغانستان او سیمې پر اقتصادي همکاریو او اقتصادي وضعیت څه احتمالي اغېزې ولري او تراوسه یې ولې پاموړ لاسته راوړنې نه دي درلودلې، دلته پرې بحث کوو.

د تحلیل په دویمه برخه کې د طالبانو د رهبرۍ له بدلون وروسته راټوکېدلو اختلافاتو په اړه شننه لولئ. تېره اوونۍ ملا منصور دادالله د یوې وېډیو په خپرولو سره د طالبانو له نوي زعامت سره خپل مخالفت اعلان کړ او هغه یې د پاکستان لاسپوڅي وبلل، چې ترې سملاسي وروسته د منصور دادالله د ګوښه کولو او غندنې په اړه د طالبانو د پخواني مشر ملا محمد عمر یو غږیز پیغام هم، چې ګومان کېږي په ۲۰۰۷ کال کې به ثبت شوی وي، په رسنیو کې خپور شو. پوښتنه دا ده، چې د طالبانو د مشرتابه له بدلون وروسته د دوی ترمنځ راټوکېدلي اختلافات په څه حالت کې دي او که دا اختلافات دوام وکړي، پر طالبانو او له افغان حکومت سره د روغې جوړې پر خبرو به یې اغېزې څه وي؟

د دې اوونۍ په تحلیل کې، د همدغو موضوعاتو په اړه د ستراتېژیکو او سیمه‌ییزو څېړنو مرکز، د خپرنیزې څانګې شننې او څېړنې لولئ.

# ریکا او سام کنفرانسونه؛ پر افغانستان او سیمه یې اغېزې




د سپټمبر میاشتې په دریمه، څلورمه او پنځمه نېټه په کابل کې "ریکا" او "سام" دوه مهم کنفرانسونه جوړ شول. لومړی کنفرانس د افغانستان لپاره د سیمه‌ییزو اقتصادي همکاریو او د سیمې د اقتصادي تړلتیا په موخه و او دا کنفرانس د افغانستان د بهرنیو چارو وزارت له خوا د هغو کنفرانسونو شپږمه لړۍ وه، چې له ۲۰۰۵ کال راهیسې د سیمې په هېوادونو کې جوړېږي. په دغه کنفرانس کې، چې دوې ورځې یې دوام درلود، د سیمې د یو شمېر هېوادونو جګپوړو چارواکو هم برخه واخیسته.

دویم هغه یې "سام" کنفرانس و، چې هر کال د توکیو (۲۰۱۲) کنفرانس د ژمنو عملي کېدل ارزوي. په دغه کنفرانس کې د ۴۱ هېوادونو او ۱۱ نړیوالو ټولنو استازو او د افغان حکومت وزیرانو او جګپوړو چارواکو برخه واخیسته، چې بنسټیزه موخه یې د حکومت د تېر کال د کړنو جاج اخیستنه، نړیوالو بسپنه ورکوونکو هېوادونو ته د انساني حقونو او له اداري فساد سره د مبارزې په برخو کې د خپلو کړنو وړاندې کول او د هغوی د مرستو جلبولو په تړاو یوه هڅه وه. دا کنفرانس د لندن له کنفرانس (۲۰۱۴) څخه وروسته، چې د ملي یووالي حکومت

پکې د اصلاحاتو په تړاو خپل پلانونه وړاندې کړي وو، لومړی ناسته او د ۲۰۱٦ کال د بروکسل کنفرانس لپاره چمتووالی ګڼل کېږي.

که څه هم د افغانستان په اړه تر اوسه ډېر نړېوال کنفرانسونه جوړ شوي؛ خو په کابل کې دغو دوو کنفرانسونو یو ځل بیا هیلې راوټوکولې. دا چې دغه کنفرانسونه به د افغانستان پر لنډمهال، منځمهال او اوږدمهال اقتصادي او سیاسي وضعیت او راتلونکې څه احتمالي اغېزې ولري، دلته پرې شننه کوو.

## د سیمې د اقتصادي الحاق هڅې

په ۱۹۸۵ کال کې په ایران کې د اقتصادي همکاریو یا ایکو سازمان جوړ شو، چې هغه مهال یې ترکیه، پاکستان او ایران غړي وو؛ خو کله چې له افغانستانه شورویان ووتل او شوروی اتحاد منحل شو، نو په دغه سازمان کې د منځنۍ آسیا اوو نویو هېوادونو ته هم غړیتوب ورکړل شو. له همدې ځایه په سیمه کې د اقتصادي الحاق هڅې ګړندۍ او د تاپي پروژې پر سر د بریدهاس او یونیکول رقابتونه هم پیل شول. ترڅنګ یې پاکستان، چین، هند، ایران او نورو هېوادونو هم هڅې وکړې، چې ځانونه د منځنۍ آسیا نویو مارکېټونو او طبیعي منابعو ته ورسوي.

د کېریک سازمان، چې د منځنۍ آسیا د سیمه‌ییزې اقتصادي همکارۍ سازمان دی، په ۱۹۹۷ کال کې جوړ شو. د آسیا پرمختیایي بانک له دغه سازمان سره د ترانسپورت، تجارت او انرژۍ په برخو کې مرستې کوي او په دې اړه یې د ۲۰۲۰ پلان وړاندې کړی. همدا راز د سیکا کنفرانس په ۱۹۹۹ کال، د شانګهای د همکاریو سازمان په ۲۰۰۱ کال او د آسیا د همکاریو سازمان په ۲۰۰۲ کال کې جوړ شو. خو هغه مهال افغانستان په ډېر بد وضعیت کې و. مواصلاتي لارې او زېربناوې یې د شوروي-افغان لس کلنې جګړې له کبله له منځه تللې وې، په کورنۍ جګړه کې بوخت او له نړۍ سره د سیاسي اړیکو په ډګر کې هم په انزوا کې و. همدا لاملونه وو، چې په یادو شویو سازمانونو کې یې برخه وانه خېسته.

د حامد کرزي د واکمنۍ په لنډمهالې دوره کې، د افغانستان له خوا د سیمه‌ییزو اقتصادي همکاریو په سازمانونو کې د غړیتوب او ګډون هڅې وشوې او په ۲۰۰۷ کال کې د سارک سازمان غړی او په ۲۰۱۲ کال کې د شانګهای سازمان ناظر شو.

## د افغانستان لپاره د سیمه‌ییزې اقتصادي همکارۍ کنفرانسونه (ریکا)

د افغانستان لپاره د سیمه‌ییزې اقتصادي همکارۍ لومړنی کنفرانس د ۲۰۰۵ کال د دسمبر پر ۵مه نېټه په کابل کې جوړ شو او تر اوسه یې شپږ کنفرانسونه جوړ شوي دي. په ټوله کې که د دغو شپږو کنفرانسونو اعلامیو ته وکتل شي، نو عمده نکات یې په لاندې ډول دي:

- زراعت او زراعتي صنعت ته پاملرنه او پرمختګ؛
- له اوبو څخه په ګډه ګټه پورته کول؛
- د انرژۍ تجارت او پرمختګ[1]؛
- ټاپي پروژه؛
- د بې‌باوریو د ختمولو په تړاو چټک ګامونه پورته کول، ترڅو اقتصادي همکاریو ته لاره هواره شي؛
- د آسیا پرمختیایي بانک به د اقتصادي تړلتیا په تړاو مطالعه کوي او خپلې موندنې به په بل کنفرانس کې شریکوي؛
- سیمه‌ییز هېوادونه به د تجارت او ترانزیټ په برخو کې خنډونه لرې کوي؛
- د سیمې هېوادونه به له افغانستان سره په دې کې مرسته کوي، چې د سیمې د انرژۍ مرکز شي[2]؛
- د افغان کډوالو د بېرته ستنېدو په تړاو به جامع پلان او په افغانستان کې به د راستنېدونکو کډوالو لپاره کمپونه جوړېږي؛
- تر ۲۰۱۵ کال پورې به د ایکو (د اقتصادي همکارۍ سازمان) په سیمه کې آزاد تجارت پیل کړي؛
- له چمن څخه به تر کندهار پورې د ریل پټلۍ غځول کېږي[3]؛

دغه راز د ریکا په څلورم کنفرانس کې، چې په ۲۰۱۱ کال کې په استانبول کې جوړ شوی و، نور ډېر مشخص ډګرونه لکه زېربناوې (سیمه‌ییز سړکونه، سیمه‌ییزې رېل کرښې، د کانونو د استخراج سیمه‌ییز صنعت)، تجارت، ترانزیټ، د پولو اداره، زده‌کړې، زراعت، د مزدورانو کډوالي او واړه صنعتونه هم په نښه شول او په پنځم کنفرانس کې هم، چې په ۲۰۱۳ کال کې په تاجکستان کې جوړ شو، په همدغو ډګرونو کې یو لړ نورې پروژې هم په نښه شوې. خو په ټولیز ډول ویلی شو، چې تر اوسه پورې د دغو کنفرانسونو د اعلامیو پروژې تر ډېره بریده یوازې د کاغذ پر مخ پاتې دي.

[1] د ریکا لومړني کنفرانس اعلامیه، چې په ۲۰۰۵ کال کې په کابل کې جوړ شوی و.
[2] د ریکا دویم کنفرانس اعلامیه، چې په ۲۰۰۶ کال په نوي ډیلي کې جوړ شوی و.
[3] د ریکا دریېم کنفرانس اعلامیه، چې په ۲۰۰۹ کال په اسلام اباد کې جوړ شوی و.

## ریکا کنفرانسونه او د افغانستان پر اقتصاد يې اغېزې

که چېرې د ریکا ژمنې په سمه توګه عملي شي، نو دا به د هېواد پر اقتصاد ژورې اغېزې وکړي؛ له یوې خوا به د افغانستان زیربناوې جوړې شي او له بلې خوا به افغانستان د ترانزیټ، تجارت او انرژۍ په ډګرونو کې د سیمې مرکز شي. خو په سمه توګه د دغو ژمنو د نه عملي کېدو له کبله افغانستان لاهم دا هدف نه دی ترلاسه شوی.

د همدغو کنفرانسونو له کبله، افغانستان په یو شمېر سازمانونو کې غړیتوب او د نظارت څوکۍ ترلاسه کړې دي. د تاپي، کاسا-۱۰۰۰ او ځینو نورو پروژو په تړاو د کاغذ پرمخ ډېرې ژمنې شوې، خو بیا هم تر اوسه د تاپي پروژې او همدا راز د کاسا-۱۰۰۰ پروژې عملي کار نه دی پیل شوی.

البته د ریکا شپږم کنفرانس له نورو پخوانیو کنفرانسونو سره یو مهم توپیر دا لري، چې دا ځل افغانستان په سمه توګه په سیمه کې د اقتصادي ترلتیا او پروژو جاج اخیستی. همدا لامل و، چې په دغه کنفرانس کې د چابهار پر بندر، د لاجورد لارې او د چین د ورېښمو په نوې لارې هم بحث وشو[4] او افغانستان د سیمې د اقتصادي ترلتیا په موخه، پر افغانستان محوره خبرې ټینګار ونه کړ، بلکې د دې پرځای يې د سیمې محوریزه اصطلاح وکاروله.

## سیمه ولې د اقتصادي پیوستون په لور نه ځي؟

د سیمې د اقتصادي الحاق لپاره تر ټولو مهمه د مواصلاتي لارو شتون، امنیت، سوله او سیاسي ثبات دی؛ خو له بده مرغه افغانستان له دغو ټولو څخه برخمن نه دی. د دې ترڅنګ په سیمه کې یو لړ داسې نورې تاریخي لانجمنې قضیې هم شته دي، چې د اقتصادي پیوستون په لاره کې خنډ بلل کېږي؛ لکه:

- د پاکستان او هند ترمنځ د کشمیر پر سر لانجه؛
- د افغانستان او پاکستان ترمنځ د پولې پر سر تاریخي شخړه؛
- په منځنۍ آسیا کې د اوبو په سر شخړې؛
- په سیمه کې د اوبو د ویشلو د تړونونو نه شتون؛
- د چین او هند سرحدي قضیه؛

[4] Tolo News, RECCA Summit An Opportunity for Regional Cooperation, 3 Sep 2015, see it online:< http://www.tolonews.com/en/afghanistan/21223-recca-summit-an-opportunity-for-regional-cooperation>

- په منځنۍ آسيا کې د نورو هېوادونو ګټې؛
- په سيمه کې د ځواک انډول (هند-جاپان-امريکا ايتلاف او چين-روسيه-پاکستان ايتلاف).

او داسې نور ډېر عوامل چې سيمه د اقتصادي پيوستون پر لور نه پرېږدي او له همدې کبله تراوسه دغو کنفرانسونو کومه مهمه او د پام وړ لاسته راوړنه نه ده لرلې.

## سام کنفرانس او د مرستو راتلونکی

په "سام" کنفرانس کې هم د هغو هېوادونو استازو ونډه واخيسته، چې له افغانستان سره د مرستو ژمنې کوي. په دغه کنفرانس کې حکومت د خپلو يولسو مياشتو کړنه او د لندن په کنفرانس (۲۰۱۴) کې د شويو ژمنو په اړه ارزونه وړاندې کړه او د راتلونکي په اړه يې نورې ژمنې هم وکړې.

دغه کنفرانس د راتلونکي کال د بروکسل کنفرانس لپاره چمتووالی او د مرستو راجلبولو يوه هڅه ده. د ملي وحدت حکومت د کابلبانک قضيې په بيا پرانيستو او محکمې ته د بهرنيو چارو وزارت د څو تنو چارواکو د دوسيو په سپارلو سره ښيي، چې دوی د اداري فساد پرضد جدي دي.

د دې ترڅنګ د نړيوالو لپاره د پاملرنې وړ نورو قضيو، لکه انساني حقونو، د ميرمنو او ماشومانو حقونو په اړه هم تودې ژمنې وشوې، چې ځينې يې په لاندې ډول دي:

**لومړی**؛ د بروکسل په راتلونکي ناسته کې به افغانستان باوري بوديجه تياره کړي؛

**دويم**؛ په افغانستان کې به د بروکسل تر راتلونکي ناستې پورې د انساني حقونو وضعيت ښه شي او هغه مهال به حکومت د ميرمنو د حقونو يو ښه انځور وړاندې کړي. د ماشومانو د حقونو په تړاو به نوی قانون راوړل شي، د ښځو پرضد د تاوتريخوالي د مخنيوي قانون به په سمه توګه عملي شي؛

**درېيم**؛ د بروکسل تر کنفرانسه به د سولې خبرو پرمختګ کړی وي او حکومت به د جګړې ختمولو په اړه جدي ګامونه پورته کړي وي.[5]

---

[5] Tolo News, Positive Reports emerge as Ghani opens SOM, 5 Sep 2015, see it online:<
http://www.tolonews.com/en/afghanistan/21240-positive-reports-emerge-as-ghani-opens-som>

## سپارښتنې

- د ریکا کنفرانس په تړاو باید په کابل کې یو سکرتریت رامنځته شي، ترڅو دغه ژمنې په سمه توگه عملي کړي؛
- یوه داسې ځانگړې کاري ډله رامنځته شي، چې یوازې د کنفرانسونو او نورو ژمنو په عملي کولو کار وکړي؛
- د اقتصادي ترلتیا او ترانزیټ، تجارت او انرژۍ په برخه کې د سیمې مرکز جوړیدو لپاره تر ټولو دمخه د زیربناو جوړول اړین دي او حکومت دې برخې ته پاملرنه زیاته کړي؛
- اوسمهال اداري فساد د افغانستان د سکتورونو هرې برخې ته ریښې کړې او په هېواد کې په یوه کلتور او عادت بدل شوی، ځکه نو یوازې د کابلبانک د قضیې له حلولو سره به اداري فساد ختم نه شي. دا یوې هر اړخیزې تگلارې ته اړتیا لري، چې هم پکې اصلاحاتو ته پرخه ورکړای شي، هم په سمه توگه قانون پلی شي او هم د اداري فساد مافیا پکې له منځه ولاړه شي؛
- حکومت باید د گمرکاتو په برخه کې اصلاحات راولي او د یو لړ اقداماتو له مخې د حکومت عاید زیات کړي؛
- حکومت باید د افغانستان زراعت، معادن او اوبو ته ډېره پاملرنه وکړي، ترڅو له دې لارې د تجارت کسر هم راکم کړي او د حکومت عواید هم زیات کړي.

# اختلافات درونی طالبان؛ وضعیت کنونی و آینده



به دنبال افشای خبر مرگ ملامحمد عمر رهبر پیشین طالبان، عده‌ای از افرادی که قبلا از شخصیت‌های مهم این تحریک بودند، با انتخاب رهبر جدید ملا اختر محمد منصور به مخالفت برخاستند. این افراد استدلال می‌کردند که انتخاب جانشین به شیوهٔ نادرست صورت گرفته است.

به میان آمدن اختلاف در هر گروهی بعد از مرگ رهبر شان امری زیاد غیر طبیعی نیست، اما اینکه راز مرگ رهبر پیشین طالبان برای مدت بیشتر از دو سال پنهان نگهداشته شد، می‌توانست یکی از عوامل این اختلاف به شمار آید، اما بعدا مسایل دیگری به میان آمد که اختلافات را بیشتر ساخت.

سید طیب آغا رئیس دفتر قطر و از افراد نزدیک به ملا محمد عمر نه تنها از اینکه این راز از وی پنهان نگهداشته شده بود، ناراضی شد بلکه در مورد انتخاب رهبر جدید و بیعت با وی در داخل خاک پاکستان نیز سوالاتی را مطرح کرد. خانوادهٔ رهبر پیشین طالبان نیز در کشمکش‌های احتمالی بر سر رهبری در تحریک طالبان اعلام بی‌طرفی نمود.

در ابتدا این مخالفت‌ها شکل اعتراض سیاسی را داشت و به همین دلیل نیز تعدادی از علمای دین برای حل آن نشست‌هایی با جهت‌های مخالف برگزار کردند، تا مشکلات حل شود. از جانب دیگر مخالفین ملا اختر محمد

منصور نیز میان خود، از تفاهم کامل برخوردار نبودند و به همین دلیل این مخالفت‌ها زیاد جدی به نظر نمی‌رسید، زیرا این اختلافات به صفوف جنگ طالبان سرایت نکرده بود، اما به تدریج این مخالفت‌ها گسترده‌تر شده است.

## مخالفت‌ها در صفوف جنگ

در آغاز کار به نظر می‌رسید که شاید ملا عبدالقیوم ذاکر که از سال‌ها قبل شایعات اختلاف وی با ملا اختر محمد منصور به گوش رسیده بود، با وی به مخالفت برخیزد. عبدالقیوم ذاکر شخصیت پرنفوذ در این صف به شمار می‌رود که مخالفتش می‌توانست بسیار تاثیرگذار باشد، اما چنین نشد. ذاکر با توجه به اختلافی که با مخالفین منصور نیز داشت، ترجیح داد تا با منصور بیعت نماید.

اما در چند روز اخیر پخش یک نوار تصویری از ملا منصور دادالله این شایعات را تقویت نمود که ممکن است دامنهٔ اختلاف به صفوف جنگی طالبان نیز کشانده شود. رسانه‌ها از جنگ میان طرفداران ملا اختر محمد منصور و ملا منصور دادالله خبر دادند، اما این شایعات از جانب طالبان رد شد و ملا منصور دادالله نیز در صحبت خویش به جنگ هیچ اشاره‌ای نداشت.

منصور دادالله در سخنانی که از این طریق رسانه‌ها پخش گردید مدعی شد که رهبران طالبان در پاکستان و توسط آی اس آی انتخاب می‌شوند. این ادعای وی با توجه به نفرتی که در صفوف جنگجویان طالب از پاکستان رو به افزایش است، تلاشی به منظور ترغیب تعداد بیشتری از جنگجویان طالب به پیوستن گروه تحت فرمان وی تلقی می‌شود. وی به وعده‌هایی از جانب آی اس آی به خودش نیز اشاره کرد که آن‌ها حاضر بودند سوم حصهٔ امکاناتی را که به طالبان داده می‌شود، به وی بدهند اما به گفتهٔ دادالله او این پیشنهاد پاکستان را رد کرد.

## تاثیر مخالفت منصور دادالله

سوال مهم این است که آیا منصور دادالله خواهد توانست تا گروه بزرگی از طالبان را به سوی خود جلب نماید و به مخالفت با رهبری تازه برانگیزد؟ با توجه به شخصیت منصور دادالله، این کار بزرگ از وی بعید است.

منصور دادالله برادر بزرگتر ملادادالله فرمانده معروف طالبان است. در دوران رژیم طالبان، او متهم به کشتار غیرنظامیان در شمال افغانستان شد و به همین دلیل نیز ملا محمد عمر وی را خلع سلاح نمود.

بعد از سرنگونی حکومت طالبان، درحالیکه هنوز رهبری طالبان برای جنگ با نظام جدید در افغانستان تصمیم نگرفته بود، ملادادالله تلاش کرد تا جبهۀ جنگ تشکیل دهد. زمانیکه نیروهای خارجی به افغانستان آمدند، ملادادالله فرمانده قدرتمند طالبان در ولایت هلمند بود که هزاران جنگجوی مسلح با وی یکجا شدند.

ملادادالله در سال 2007 در ولسوالی نهرسراج ولایت هلمند در جنگ با نیروهای خارجی کشته شد و برادرش منصور جانشین وی گردید. او شهرت خود را مدیون کارنامۀ برادرش بوده و لقب دادالله را نیز از نام برادر به ارث برده است.

منصور دادالله در سال 2008 میلادی به دنبال افشای این خبر که وی با دو تن از مامورین انگلیس دفتر اتحادیۀ اروپا در کابل بنام‌های مایکل سمپل و ماروین دیدار داشته است، به امر ملامحمد عمر از فرماندهی عزل شد و افراد مسلحش او را ترک کردند. طالبان نیز پس از نشر پیام ویدیویی از جانب منصور دادالله، پیام منسوب به ملا محمد عمر در مورد برکناری وی از فرماندهی که غالبا در سال 2007 ثبت گردیده، به نشر سپردند.[۶]

ملا منصور دادالله پس از برکناری هنگام بازگشت به ایالت بلوچستان پاکستان همراه با برادر بزرگترش حاجی لالا، توسط نیروهای پاکستانی دستگیر و تا سال 2013 در زندان باقی ماند. زمانیکه حکومت افغانستان از پاکستان تقاضا نمود تا رهبران طالبان را که در زندان‌های آن کشور است آزاد سازد، پاکستانی‌ها به سران افغان قوم کاکر در بلوچستان پیغام فرستادند که اگر آن‌ها ضمانت نمایند که منصور دادالله دست به فعالیت‌های نظامی علیه نیروهای خارجی در افغانستان نزند، او را آزاد خواهند ساخت. (منصوردادالله از قوم کاکر است). سران قوم باید حمایت طالبان افغان را نیز می‌داشتند، اما طالبان با توجه به تلون مزاج منصور دادالله از دادن چنین ضمانتی خودداری ورزیدند و در نتیجه ملا منصور دادالله چند ماه دیگر نیز در زندان باقی ماند و پاکستانی‌ها به وی گفتند که طالبان افغان وی را از خود نمی‌دانند.

ملامنصور دادالله بعد از آزادی در منطقۀ ژوب بلوچستان زندگی می‌کرد و طبق وعده به سران قوم، فعالیت نظامی نیز نداشت اما او بعدا به منطقۀ خاک افغان در ولایت زابل رفت و افراد مسلح که بیشتر از قوم خود وی بودند، با وی یکجا شدند. قبلا رسانه‌ها خبر داده بودند که ملامنصور دادالله در ولسوالی خاک افغان به حمایت از گروه داعش برخاسته است، اما وی در مصاحبه با رسانه‌ها این شایعات را رد کرد و گفت که او همچنان به ملامحمد عمر وفادار است.

[6] See online:
http://www.bbc.com/pashto/afghanistan/2015/09/150910_hh-mulla-omar-message

بعد از افشای مرگ ملامحمد عمر، او به این نتیجه رسید که ملا اختر محمد منصور نخواسته تا وی از زندان آزاد شود و به همین دلیل وی نسبت به ملااختر منصور عقده گرفته و برضد وی دست به تحریکات زده است.

## آیندۀ اختلافات درونی طالبان

سرو صدای مخالفت با رهبری جدید از همان آغاز افشای خبر مرگ ملامحمد عمر توسط جمعی از سران سابق طالبان بلند شد و رهبری جدید نیز آنرا جدی گرفت. ملااختر محمد منصور در نخستین سخنان خویش بعد از بیعت به وی، این مسئله را مهم دانست و گفت تلاش خواهد کرد تا نارضایتی‌ها را از طریق مذاکره و تفاهم از میان بردارد.

اما عبدالحی مطمئن یکی از نزدیکان ملا اختر محمد منصور با صراحت گفت که کسانی که در طول چند سال گذشته به جای مبارزۀ مسلحانه به کار تجارت مشغول بودند، حق ندارند که رهبری جدید را زیر سوال ببرند. اشارۀ وی به آندسته از سران طالبان بود که در مذاکرات صلح تحت سرپرستی پاکستان با حکومت افغانستان سهم گرفته بودند.

اما اکنون سروصداها به میدان نبرد رسیده است و این مسئله می‌تواند برای طالبان و آیندۀ این گروه چالش برانگیز باشد. اگر منصور داداالله موفق شود تا تعداد دیگری از فرماندهان نظامی طالبان را با خود همصدا و همگام سازد، بدون شک رهبری جدید با چالش‌های جدی‌تری مواجه خواهد شد و احتمال دارد تا طالبان حداقل به دو گروه تقسیم شوند. از این ضعف طالبان، گروه تازه به میدان آمده یعنی داعش خواهد توانست استفاده نماید. گروه داعش تاکنون نتوانسته حضور قابل توجه در افغانستان داشته باشد و دلیل عمدۀ آن نیز وحدت میان طالبان بود، اما اگر گروهی از طالبان با داعش یکجا گردد، این گروه خواهد توانست خود را جانشین طالبان در افغانستان بداند و با اطمینان بیشتر فعالیت‌های خود را در بخش‌های مختلف از افغانستان گسترش بخشد.

سوال این است که آیا ضعف طالبان می‌تواند تاثیر مثبت بر پروسۀ صلح داشته باشد؟ بعضی از تحلیلگران به این باور اند که حکومت افغانستان باید از این فرصت استفاده نموده و با اقدامات استخباراتی، روند جدایی و انشعاب در صف طالبان را تسریع نماید تا بخشی از طالبان که خواهان صلح اند، با حکومت افغانستان یکجا شوند.

اما حقیقت این است که اختلاف موجود در صف طالبان بخاطر مخالفت یا موافقت با مذاکرات صلح نیست. اصولا موضوع مذاکرات صلح در میان طالبان هنوز به شکل یک ضرورت مطرح نشده و نظامیان طالبان که انشعاب آنان

می‌تواند بزرگترین ضربه را بر وحدت طالبان وارد آورد در این نکته با هم وحدت نظر دارند که تا نیروهای خارجی در افغانستان حضور داشته باشد، دست از جنگ نخواهند کشید.

اگر واقعا انشعاب در صف طالبان تحقق یابد، برای حکومت افغانستان در کوتاه‌مدت می‌تواند یک دست‌آورد باشد، زیرا از فشار جنگ‌ها خواهد کاست اما در طولانی‌مدت ممکن است گروه‌های تندروتری را به میدان آورد که هرگز برنامه‌ای برای صلح نداشته باشند.

پایان

**ارتباط با ما:**

ایمیل: info@csrskabul.com csrskabul@gmail.com

وب سایت: www.csrskabul.com - www.csrskabul.net

شمارۀ تماس دفتر: 784089590 (+93)

**ارتباط با مسؤولین:**

دکتور عبدالباقي امین، رئیس مرکز مطالعات استراتژیک ومنطقوی: 789316120 (+93) abdulbaqi123@hotmail.com

داکتر وحیدالله مصلح، معاون مرکز مطالعات استراتژیک ومنطقوی: 747575741 (+93) drwahidm@gmail.com

حکمت الله ځلاند، مسؤول تحقیقات و نشرات: 775454048 (+93) hekmat.zaland@gmail.com